**د الله سبحانه و تعالی ژمنه زموږ بریا او د نبي کریم ﷺ زېری زموږ ځواک دی**



د څوارلسو پېړیو په اوږدو کې، د الله سبحانه و تعالی ژمنه د محمد ﷺ د امت د بریا لپاره یوه پیاوړې انګېزه وه. د خلافت له ړنګېدو وړاندې او د اسلام د پلي کېدو پر مهال، تر هغه وخته چې مسلمانانو د ژوند په ټولو اړخونو کې اسلام پلی کاوه، له ځواکمنو دښمنانو سره یې جګړه کوله او د اسلام د پراختیا لپاره یې د نوو خاورو د پرانیستنې لاره اواروله.د خلافت له ړنګېدو مخکې، د الله سبحانه و تعالی ژمنې مسلمان جنګیالي وهڅول او ذهنیت یې ورکړ، چې د جګړې په ډګر کې د هغه دښمن پر وړاندې چې د شمېر له پلوه تر دوی څو ځله زیات و پرله پسې بریاوې ترلاسه کړې، ان دښمنانو باور درلود چې مسلمانان نه ماتېدونکی ځواک دی.

د خلافت له ړنګېدو وروسته او تر بیا ځلې تاسیسېدو وړاندې، اوس مهال د الله سبحانه و تعالی له لوري د بریا پر ژمنې کلك باور لرل اړین دي. دغه فکر جنګیالي هڅوي، ترڅو بهرنې ښکېلاک ته د پای ټکی کېږدي، د دوام مخه یې ونیسي او دښمنان د نهیلۍ کندې ته وغورځوي، لکه: په تېره کې چې موږ په افغانستان او کشمیر کې د ورته حالت شاهدان و. همدغه فکر دعوتګران هڅوي، چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم پر طریقه د خلافت د بیا تاسیسولو په موخه هلې ځلې وکړي، د ښکېلاکي ځواکونو دسیسې بربنډې کړي او اسلام د ژوند د هراړخیزې تګلارې په توګه مسلمانانو ته ور وپېژني. دغه راز یاد فکر د وسله والو ځواکونو افسران په ډاډ، هیله مندۍ او زړه ورتیا سره د الله سبحانه و تعالی ژمنې ته هڅوي، چې د خلافت د بیا تاسیس په موخه اسلام ته نصرت ورکړي او په خپل ټول توان سره د امت لپاره بنسټیز بدلون رامنځته کړي.

راځئ! د ځوان نسل پاملرنه مو د الله سبحانه و تعالی دې وینا ته راواړوو، هغه فرمايي:

**﴿إِنَّا لَنَنْصُرُ رُسُلَنَا وَالَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَ يَومَ يقُومُ الأَشهدُ﴾**

[الغافر:۵۱]

*ژباړه: باوري اوسئ، چې د خپلو پیغمبرانو او مومنانو مرسته به هرومرو په دنیا کې او په هغه ورځ وکړو چې کله شاهدان ولاړ وي.*

په ریښتیا سره په هره موضوع کې د الله سبحانه و تعالی ژمنه د مخلوق د ژمنې په څېر نه ده، هغه سبحانه و تعالی خپله ژمنه تل پوره کوي او ژمنه یې ریښتنې وي. الله سبحانه و تعالی فرمايي:

**﴿نَّ اللَّهَ لَا يُخْلِفُ الْمِيعَادَ﴾**

[العمران:۹]

*ژباړه: الله سبحانه و تعالی هیڅکله خپله ژمنه نه ماتوي.*

او په بل ایت کې فرمايي:

**﴿وَمَنْ أَصْدَقُ مِنَ اللَّهِ قِيلًا﴾**

[النساء:۱۲۲]

*ژباړه: او له الله څخه به څوک زيات په خپله خبره کې رښتني وي.*

خلک مو بايد د الله سبحانه و تعالی پر ژمنه ټينګه عقيده ولري،ترڅو له دې لارې و کولای شي نېک عملونه ترسره کړي او د ځمکې خلافت ور په برخه شي، د انسانيت مشران او واکمنان شي، د وېرې له حالت څخه ووځي، د سولې او ټيکاو حالت ور په برخه شي. الله سبحانه و تعالی په دې اړه فرمايي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾**

[النور: ۵۵]

*ژباړه: الله سبحانه و تعالی له هغو کسانو سره، چې ايمان يې راوړی او نېک کارونه کوي، ژمنه کړې چې هغوی به په ځمکه کې هماغه شان خليفه ګان وګرځوي لکه چې له هغوی څخه مخکې تېر شوي خلک يې ګرځولي و. د هغوی لپاره به هغه دين پر کلکو بنسټونو دروي چې الله ورته غوره کړی. دهغوی وېره به په امن بدله کړي. هغوی دې زما بندګي کوي او له ما سره دې کوم شی نه شريکوي. څوک چې له دې وروسته کفر غوره کړي، نو همداسې کسان فاسقان دي.*

راځئ امت په دې پوه کړو، چې الله سبحانه و تعالی څرنګه د دغه لومړني او غوره امت لپاره خپله ژمنه پوره کړه. دوی پر الله سبحانه و تعالی ايمان درلود او د اسلام احکام يې پوره پلي کول، نو ځکه الله سبحانه و تعالی دوی ته د نورو ملتونو پر وړاندې برې ورکړ. لومړنی نسل د مستبدو حاکمانو تر ځورونې لاندې او له بې شمېره ستونزو سره مخ و. دوی د داسې دښمنانو له لوري کلابند وو، چې د شمېر او مادي امکاناتو له پلوه تر دوی زيات وو.خو واقعت دا دی، چې برې د الله سبحانه و تعالی په لاس کې دی. لومړنی نسل پر دې سربېره له ډېرو خنډونو سره مخ و، خو خلکو ته د اسلام په لېږد کې په بشپړه ډول بوخت و. دوی ډاډه وو، چې الله سبحانه و تعالی به د دوی ملاتړ کوي، همدا و چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته په نصرت ورکولو کې د انصارو جنګياليو خپله دنده ترسره کړه.

نو ځکه د لومړني نسل مسلمانانو پر مکه، خيبر، بحرين، پر ټوله عربي ټاپووزمه او يمن برې ترلاسه کړ. دوی د حجر او د سوريې د سرحدي سيمو له زردشتيانو څخه جزيه واخيستله. لومړني نسل د حضرت ابوبکر صديق رضی الله عنه د خلافت په دوره کې ټوله عربي ټاپووزمه فتح کړه، اسلامي لښکر د فارس، شام او مصر په لور ولاړ او د اسلام لمن يې پراخه کړه. وروسته د حضرت عمر رضی الله عنه د خلافت په دوره کې د شام او مصر پاتې برخې او د فارس ډېرې برخې مسلمانانو فتح کړې او اسلام يې په کې حاکم کړ. کسرا له ماتې سره مخ، ذليل شول او پادشاهي پرې راتنګه شوه. د ځواکمن قيصر دبدبه هم را ټيټه شوه، د شام له تخته وپرځېد او د قسطنطنيې په لور شاتګ ته اړ شو. وروسته د حضرت عثمان رضی الله عنه د خلافت په دوره کې اسلامي دولت د ختيځ او لوېديځ په لور پراختيا وموندله. د لوېديځ خاورې تر قبرص او اسپانيې پورې فتح شوې. د ختيځ په لور تر چين پورې اسلامي دولت پراختيا وموندله. کسرا ووژل شو، پادشاهي يې په بشپړه توګه له منځه ولاړه او دغه راز د عراق، خراسان او احواز ښارونه فتح شول.

په حقيقت کې لومړني نسل د الله سبحانه و تعالی له لوري ژمنه شوې بريا په خپلو سترګو وليدله. د الله سبحانه و تعالی د اطاعت او د هغه د رسول صلی الله عليه و سلم د زېري په ترڅ کې، دوی د سترو برياوو لاس ته راوړنو شاهدان وو. په دې اړه د الله رسول وفرمايل:

**«وَاللَّهِ لَيُتِمَّنَّ هَذَا الأَمْرَ حَتَّى يَسِيرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلَى حَضْرَمَوْتَ، لاَ يَخَافُ إِلاَّ اللَّهَ أَوِ الذِّئْبَ عَلَى غَنَمِهِ، وَلَكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُونَ»**

(بخاري)

*په الله قسم دغه دين به تر هغه ځايه پراخ شي، چې يو مسافر به د يمن له صنعاڅخه تر حضرالموت پورې پرته له وېرې سفر کوي، خو يوازې به له الله سبحانه و تعالی څخه وېرېږي، يا به ليوه د پسونو ساتنه کوي، خو تاسو به بيړه کوئ...*

هغه صلی الله عليه و سلم مسلمانان خبر کړي و، چې اسلام به پر عربي ټاپووزمه او د پولې هغه خوا په فارس کې حاکم شي.

**«فَوَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَيُتِمَّنَّ اللهُ هَذَا الْأَمْرَ حَتَّى تَخْرُجَ الظَّعِينَةُ مِنَ الْحِيرَةِ حَتَّى تَطُوفَ بِالْبَيْتِ فِي غَيْرِ جِوَارِ أَحَدٍ، وَلَتَفْتَحُنَّ كُنُوزَ كِسْرَى بْنِ هُرْمُزَ نَعَمْ، كِسْرَى بْنُ هُرْمُزَ، وَلَيُبْذَلَنَّ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ»**

*قسم په هغه ذات چې زما روح يې په لاس کې دی، الله سبحانه و تعالی به د اسلام دين دومره پراخ کړي، چې يوه ښځه به پر اوښ باندې له حيره څخه د چا له ساتنې پرته سفر کوي او د کعبې پر شاوخوا به طواف کوي، او د کسرا د زوی هرموز خزانې به ترلاسه شي.هغه صلی الله عليه و سلم وويل: هو! د کسرا د زوی هرموز شتمني به تر هغه وخته وېشل کېږي، چې د شتمنی د اخيستلو لپاره به يې څوک نه پيداکېږي.*

عادي بن حاتم رضی الله عنه فرمايلي: اوس هغه وخت راغلی چې يوه ښځه پر اوښ سپره له حيرې څخه د چا له ساتنې پرته سفر او د کعبې شريفې پر شاوخوا طواف وکړي، او زه يو له هغو کسانو څخه وم چې د کسرا د زوی هرموز خزانه مې ترلاسه کړه.

زموږ لپاره د الله سبحانه و تعالی د بريا پر ژمنې سربېره، د رسول الله صلی عليه و سلمزېري هم شته. دا هغه زېري دي، چې تېرو نسلونو نه دي ليدلي او که د الله خوښه وه موږ به يې د الله سبحانه و تعالی او د ده د رسول ﷺ په بشپړ اطاعت کې شاهدان يو.

د مسلمانو حکامو پر ظلمونو سره سره، مسلمانان بايد د اسلام د حاکميت په موخه خپلې هلې ځلې ګړندی کړي، ترڅو د وخت له پای ته رسېدو وړاندې او له ظالمې دورې وروسته، موږ د خلافت په بيا راتګ سره د رسول الله صلی الله عليه و سلم د زېري شاهدن واوسو. رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي:

**«ثُمّ تكونُ مُلْكاً جَبريَّةً، فتكونُ ما شاءَ الله أنْ تكون، ثُمّ يرفعُها إذا شاءَ أنْ يرفعَها. ثُمّ تكونُ خِلافةً على مِنهاج النُّبُوَّة، ثم سكت»**

(رواه: امام احمد)

*وروسته به د ظلم واکمنې وي، دا به تر هغه وخته وي چې د الله سبحانه و تعالی خوښه وي، او وروسته به يې الله سبحانه و تعالی چې کله وغواړي لرې کړي. وروسته به د رسول الله صلی عليه و سلم پر طريقه خلافت رامنځته شي او بيا چوپ شو.*

له يهودي دولت سره د اړيکو په پرېکولو سره، موږ مسلمانان بايد د رسول الله صلی عليه و سلم پر طريقه د خلافت د بيا ځلې تاسيسېدو په موخه هلې ځلې وکړو، ترڅو زموږ وسله وال ځواکونه سمبال شي او د يهودي دولت اشغال پای ته ورسوي. او په دوی کې دومره وېره خپره شي، چې دوی فکر وکړي چې ونې او تيګي د دوی ځای مسلمانانو ته په ګوته کوي.

**«لا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ حَتَّى يَخْتَبِئَ الْيَهُودِيُّ مِنْ وَرَاءِ الْحَجَرِ وَالشَّجَرِ فَيَقُولُ الْحَجَرُ أَوِ الشَّجَرُ يَا مُسْلِمُ يَا عَبْدَ اللَّهِ هَذَا يَهُودِيٌّ خَلْفِي فَتَعَالَ فَاقْتُلْهُ. إِلاَّ الْغَرْقَدَ فَإِنَّهُ مِنْ شَجَرِ الْيَهُودِ»**

(مسلم)

*رسول الله صلی عليه و سلم فرمايلي: د قيامت ورځ به تر هغه وخته را نه شي، چې مسلمانان له يهودو سره جګړه و نه کړې او وېې نه وژنې، يهود به د ونو او تيګو تر شا پټېږي، تيګه او ونه به غږ کوي چې ای*

*مسلمانه! ای د الله بنده! دغه دی زما تر شا یهودی دی، راشه او مړ یې کړه، خو د غرقد ونه به غږ نه کوي، ځکه چې هغه د یهودو ونه ده.*

د هند پر وړاندې د اوسنيو حکامو د کمزوري دريځ په رد سره،مسلمانان بايد د رسول الله صلی علیه و سلم پر طريقه د خلافت د بيا ځلي تاسيسېدو په موخه خپلو هلوځلو ته دوام ورکړي، ترڅو وسله وال ځواکونه مو پر ټول هندوستان اسلام واکمن کړي، دا په داسي حال کي ده، چې د پخوانيو مسلمانانو له لورې ياده چاره سرته نه ده رسېدلي.

**«وَعَدَنا رسولُ اللّهِ ﷺ غزوةَ الهند، فإنْ أدركتُها أُنْفِقْ نفسي ومالي، وإنْ قُتِلْتُ كنتُ أفضلَ الشهداء، وإنْ رجعتُ فأنا أبو هريرة المُحَرَّرُ»**

(احمد، النسايي، الحکيم)

*له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه و سلم موږ ته د هندوستان د فتحې ژمنه راکړې. که زه تر هغه وخته ورسېږم، زه به خپل ځان او مال وښندم. که زه ووژل شم، نو له بهترينو شهيدانو څخه به شم، او که ژوندی پاتې شم، نو به غازي ابوهريره يم.*

دغه راز له ثوبان رضی الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل:

**«عِصابتان من أمّتي أَحْرَزَهُما اللّـهُ من النار: عِصابةٌ تغزو الهندَ، وعِصابةٌ تكون مع عيسى ابن مريم عليهما السلام»**

(احمد او النسايي)

*زما د امت دوې ډلې به د جهنم له اور څخه په امن وي؛ هغه ډله چې هند فتح کړي او هغه ډله چې له عيسی ابن مريم سره وي.*

او په نړيواله سطحه د ظالمو ښکېلاکي ځواکونو له ولکې څخه د خلاصون لپاره بايد، مسلمانان د رسول الله صلی علیه و سلم پر طريقه د خلافت د بيا ځلي تاسيسېدو په موخه وهڅوو، ترڅو مسلمانان د رسول الله صلی علیه و سلم د هغه زېري شاهدان شي، چې اسلام به پر ختيځ او لوېديځ حکومت کوي.په يو صحيح حديث کې راغلي چې د الله پيغمبر وفرمايل:

**«إِنَّ اللهَ زَوَى لِيَ الْأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا، وَسَيَبْلُغُ مُلْكُ أُمَّتِي مَا زُوِيَ لِي مِنْهَا»**

*الله سبحانه و تعالی ماته ځمکه راوښودله، د هغې ختيځ او لوېديځ مې وليدل. زما د امت حکومت به تر هغه ځايه ورسېږي چې ماته راوښودل شول.*

د بخاري په حديث کې ابوهريره رضی الله عنه له رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه روايت کوي:

**« وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَيُوشِكَنَّ أَنْ يَنْزِلَ فِيكُمُ ابْنُ مَرْيَمَ حَكَمًا عَدْلًا، فَيَكْسِرَ الصَّلِيبَ، وَيَقْتُلَ الْخِنْزِيرَ، وَيَضَعَ الْجِزْيَةَ، وَيَفِيضَ الْمَالُ حَتَّى لَا يَقْبَلَهُ أَحَدٌ، حَتَّى تَكُونَ السَّجْدَةُ خَيْرًا لَهُمْ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا»**

*زما د په هغه رب قسم وي چې زما روح يې په واک کې دی، د مريم زوی عيسی به ژر د يو عادل حاکم په توګه راکښته شي ، صليب به مات کړي، خنځير به ووژني او جزيه به لغوه کړي، مال به دومره ډېر شي، چې اخيستلو ته به يې څوک چمتو نه وي. په دغه وخت کې به دوی ته يوه سجده تر ټولې دنيا او هغه څه چې په دنيا کې دي، غوره وي.*

راځئ! مسلمانانو ته ور ياد کړو چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د هغه زېري شاهدان شي، چې پر بنسټ يې د روم د قيصر جيولس ښار فتح شو او دا کار د خلافت په وروستيو کې د هرقل ښار (قسطنطنيي) په نيولو سره سرته ور سېد.

امام احمد په خپل سند کې له عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه څخه روايتوي:

**بَيْنَمَا نَحْنُ حَوْلَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَكْتُبُ، إِذْ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الْمَدِينَتَيْنِ تُفْتَحُ أَوَّلًا: قُسْطَنْطِينِيَّةُ أَوْ رُومِيَّةُ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَدِينَةُ هِرَقْلَ تُفْتَحُ أَوَّلًا»، يَعْنِي: قُسْطَنْطِينِيَّةَ**

*موږ له رسول الله صلی علیه و سلم راغونډ وو او لیکل مو کول، له ده (صلی الله علیه و سلم) څخه پوښتنه وشوه، کوم ښار به لومړی فتح شي، قسطنطنیه که روم؟ رسول الله صلی علیه و سلم وویل: د هرقل ښار (قسطنطنیه) به لومړی فتح شي.*

**د حزب التحریر ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**لیکوال: مصعب عمیر**

**ژباړن: صدیق احمدزی**